DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

هرات
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸


په هرات ولایت کې داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي کورنۍ په لرو پرتو سیمو کې ژوند کوي. له دې امله هرات ولایت د هېواد په کچه تر ټولو لوړ شمېر کسان لري چې بازارونو ته اړتیا لري. همدا لامل دی چې ډېری داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي کسان له محلي شته سرچینو څخه ګټه اخلي – لکه دا مېرمن چې په انجیل ولسوالۍ کې تنور کې ډوډۍ پخوي © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کېدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکتوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۴۴۹** کلي وارزول شول

**۲،۴۰۳**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۹۱،۸۰۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۴۴،۵۰۰**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۲،۴۷۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۳۶،۵۱۱**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۶،۰۲۷**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ٪۸)

**۲،۲۹۹**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۴ څخه ۱**
کس په هرات ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا راستنېدونکی – هرات ولایت د هېواد په کچه د داخلي بېځایه شویو او رساتنېدونکو دوم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۱۶۱،۶۵۸**
کسان (٪۲۵) بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري – هرات ولایت د هېواد په کچه بازارونو ته د اړتیا تر ټولو لوړ شمېر لري

**۲۶۱،۴۴۹**
کسان (٪۴۱) روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري –هرات ولایت د هېواد په کچه کلینیکونو ته تر ټولو ولایتونو ډېره اړتیا لري

**۳۷،۲۶۵**
کسان د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري – هرات ولایت اوبو ته د هېواد په کچه پنځم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۵ څخه ۱**
٪۱۷ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان په غیر رسمي سیمو کې ژوند کوي

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولسواليو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنيدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنيدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چي خپلي اصلي سيمي ته بېرته ستنيږي | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هرات | ۵۳۸,۶۷۳ | ۲۰۵,۵۳۲ | ٪۲۸ | ۲۶,۲۳۶ | ٪۴ | ۶,۴۲۸ | ٪۱ | ۱۷۹,۲۹۶ | ٪۲۴ | ۲,۰۷۷ | ٪۰ | ۱۹,۷۹۸ | ٪۴ |
| انجيل | ۲۶۷,۰۲۳ | ۶۳,۷۱۴ | ٪۱۹ | ۸,۱۶۴ | ٪۲ | ۸,۹۴۰ | ٪۳ | ۵۵,۵۵۰ | ٪۱۷ | ۳,۰۹۸ | ٪۱ | ۸,۱۵۴ | ٪۳ |
| کشک | ۱۳۶,۴۹۵ | ۳۰,۹۴۹ | ٪۱۸ | ۹,۰۶۶ | ٪۵ | ۱۱,۷۸۶ | ٪۹ | ۲۱,۸۸۳ | ٪۱۳ | ۸,۲۱۹ | ٪۶ | ۹,۴۷۲ | ٪۷ |
| زنده جان | ۶۲,۳۶۳ | ۵,۱۲۳ | ٪۸ | ۶۳۹ | ٪۱ | ۴۹۸ | ٪۱ | ۴,۴۸۴ | ٪۷ | ۸۳۹ | ٪۱ | ۱,۹۸۶ | ٪۳ |
| گذره | ۱۶۰,۲۶۵ | ۶۹,۲۶۶ | ٪۳۰ | ۱۲,۷۷۷ | ٪۶ | ۷,۸۰۳ | ٪۵ | ۵۶,۴۸۹ | ٪۲۵ | ۳,۱۶۴ | ٪۲ | ۱۶,۶۴۱ | ٪۱۰ |
| پشتون زرغون | ۱۰۹,۴۵۳ | ۵۳,۸۷۹ | ٪۳۳ | ۶۵۳ | ٪۰ | ۱,۹۹۴ | ٪۲ | ۵۳,۲۲۶ | ٪۳۳ | ۱,۱۷۹ | ٪۱ | ۴,۷۳۶ | ٪۴ |
| کرخ | ۶۹,۹۵۲ | ۲۰,۶۱۲ | ٪۲۳ | ۳,۷۳۹ | ٪۴ | ۱۱,۰۳۱ | ٪۱۶ | ۱۶,۸۷۳ | ٪۱۹ | ۶,۱۰۲ | ٪۹ | ۵,۲۳۳ | ٪۷ |
| گلران | ۱۰۲,۷۸۰ | ۴,۹۶۳ | ٪۵ | ۱,۴۶۱ | ٪۱ | ۳,۷۶۸ | ٪۴ | ۳,۵۰۲ | ٪۳ | ۲,۱۲۶ | ٪۲ | ۱,۷۵۱ | ٪۲ |
| غوريان | ۹۷,۸۹۳ | ۲۶,۲۸۰ | ٪۲۱ | ۵,۸۶۰ | ٪۵ | ۹,۶۴۸ | ٪۱۰ | ۲۰,۴۲۰ | ٪۱۶ | ۳,۵۰۸ | ٪۴ | ۲۱,۱۸۱ | ٪۲۲ |
| ادرسکن | ۵۸,۶۳۹ | ۱۶,۸۴۵ | ٪۲۲ | ۵,۸۳۰ | ٪۸ | ۹,۸۵۳ | ٪۱۷ | ۱۱,۰۱۵ | ٪۱۵ | ۶,۷۲۰ | ٪۱۱ | ۸,۵۴۹ | ٪۱۵ |
| اوبه | ۸۲,۸۴۷ | ۵۶,۵۶۷ | ٪۴۱ | ۹۳۲ | ٪۱ | ۱۰,۶۹۸ | ٪۱۳ | ۵۵,۶۳۵ | ٪۴۰ | ۱,۷۹۱ | ٪۲ | ۱۳,۱۲۸ | ٪۱۶ |
| کشک کهنه | ۴۹,۹۱۳ | ۳,۳۷۴ | ٪۶ | ۲,۲۵۹ | ٪۴ | ۱۳,۲۸۲ | ٪۲۷ | ۱,۱۱۵ | ٪۲ | ۱,۵۹۶ | ٪۳ | ۲,۲۵۶ | ٪۵ |
| کهسان | ۵۹,۴۰۹ | ۴۶,۱۶۳ | ٪۴۴ | ۱۱,۲۰۷ | ٪۱۱ | ۴,۹۱۱ | ٪۸ | ۳۴,۹۵۶ | ٪۳۳ | ۵,۵۱۱ | ٪۹ | ۱۴,۱۴۲ | ٪۲۴ |
| شيندند | ۱۹۵,۴۰۰ | ۱۸,۱۶۸ | ٪۹ | ۱,۹۰۴ | ٪۱ | ۳۲,۱۱۳ | ٪۱۶ | ۱۶,۲۶۴ | ٪۸ | ۳,۶۸۰ | ٪۲ | ۸,۳۸۶ | ٪۴ |
| چشت شريف | ۲۵,۹۱۹ | ۱۴,۸۷۱ | ٪۳۶ | ۱,۰۷۹ | ٪۳ | ۳,۵۳۱ | ٪۱۴ | ۱۳,۷۹۲ | ٪۳۴ | ۲,۸۶۳ | ٪۱۱ | ۱,۰۹۸ | ٪۴ |
| مجموعه | ۲,۰۵۰,۵۱۴ | ۶۳۶,۳۰۶ | ٪۲۴ | ۹۱,۸۰۶ | ٪۳ | ۱۳۶,۲۸۴ | ٪۷ | ۵۴۴,۵۰۰ | ٪۲۰ | ۵۲,۴۷۳ | ٪۳ | ۱۳۶,۵۱۱ | ٪۷ |

** د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري (*NSIA*) اټکل    سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪

** په هرات ولايت کې د ۱۶ ولسواليو له جملې يوازې ۱۵ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ وې او ارزول شوي دي نو ځکه د پورتنيو ۱۵ ولسواليو مجموعه د هرات ولايت مجموعي نفوس سره چې په پورتني جدول کې ليکل شوی يوشان نده.



د پناه ځای خراب وضعيت او په آزاده فضا کې ژوند کول له روغتيايي ستونزو سره تړون لري. پورتني انځور کې د دې وضعيت شودنه شوې. هرات ولايت د هواد په کچه روغتيايي مرکزونو ته د اړتيا تر ټولو لوړ شمېر لري. © IOM ۲۰۱۸

# تګلاره

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوي فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري ترې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ور جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې ور جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

# کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوسکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په هرات ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۶٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۸ کال د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر په پرتله چې ۴٪ وه په نسبي توګه لوړ دی او د ۲۰۱۷ کال مارچ میاشتې شمېر (۰.۱٪) په پرتله هم پرمختګ شبي .

**۲،۴۰۳**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴۱۳**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۷٪)

**۱۴۰**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۶٪)

**۶۰۷**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۵٪)


**۲،۲۶۳**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۴٪)

**۳۷۲**
څو سکټوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪)


**۵,۴**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۸۱۰**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۴٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | هرات




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | هرات



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه هرات ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ډېر لږ زیاتوالی شیې خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۵٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۷۴٪ کموالی شیې.

**۹۱،۸۰۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۱۶،۸۱۵**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۱۸٪)


**۵۹،۶۷۰**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۶۶٪)


**۷۳،۳۹۸**
ایران څخه راستنېدونکي (۸۰٪)


**۳۰،۵۴۳**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۳۴٪)


**۱،۵۹۳**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۲٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او د طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/کورنو تولنو ته تللې او هلته ژوند کوي.

**۵۴۴،۵۰۰** په کورنو ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان


**۶۴٪** د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۱۷۹،۲۹۶** هرات ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۳۶٪** د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۸۹،۸۹۸** داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۱۷٪)


**۳۴٪** په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي







# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)

تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | هرات





په عمومي توګه هرات ولایت له ټولټال ۶۳۶،۳۰۶ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي چې ۱۴٪ (۹۱،۸۰۶ کسان) راستنېدونکي او ۸۶٪ (۵۴۴,۵۰۰ کسان) داخلي بېځايه شوي دي. په لاندې جدول کې د هرات ولايت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زياتو بېځايه شويو او راستنېدونکو راتګ څخه اغيزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د هرات ولايت ۴۴۹ ارزول شويو کليو څخه ۴٪) د ټول ولايت ۵۶٪ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زيانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچينې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | جبريل | هراټ | ۱۸۵,۴۱۶ |
| ۲ | قدوس آباد | کهسان | ۱۱,۵۵۶ |
| ۳ | کواچن | گذره | ۸,۳۰۴ |
| ۴ | خاتم النبيا | گذره | ۸,۲۴۹ |
| ۵ | غوري آباد | پشتون زرغون | ۷,۹۲۵ |
| ۶ | اسلام قلعه | کهسان | ۷,۴۵۵ |
| ۷ | محله دشت | گذره | ۶,۹۲۹ |
| ۸ | کلاته مير حکيم | کهسان | ۶,۵۱۹ |
| ۹ | داش خانه | انجيل | ۶,۱۰۷ |
| ۱۰ | رباط سليمان | گذره | ۵,۱۸۳ |
| ۱۱ | شهرک امام فخر رازی | کرخ | ۴,۶۱۶ |
| ۱۲ | کلاته غازی | کهسان | ۴,۵۸۶ |
| ۱۳ | شکوفان | انجيل | ۴,۵۰۱ |
| ۱۴ | محله بابا جی | هراټ | ۴,۴۰۸ |
| ۱۵ | چهل دختران (۲) | کشک | ۳,۷۶۹ |
| ۱۶ | کوين | اوبه | ۳,۷۶۳ |
| ۱۷ | چهار دری | شين دند | ۳,۶۷۰ |
| ۱۸ | اب جليل | انجيل | ۳,۶۵۱ |
| ۱۹ | مهاجر آباد | گذره | ۳,۵۶۹ |
| ۲۰ | تيزن (۱) | گذره | ۳,۵۰۶ |
| | | مجموعه | ۲۹۳,۶۸۲ |

## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| هرات | ۲۶,۲۳۶ | ۱۷۹,۲۹۶ | ۲۰۵,۵۳۲ |
| گذره | ۱۲,۷۷۷ | ۵۶,۴۸۹ | ۶۹,۲۶۶ |
| انجيل | ۸,۱۶۴ | ۵۵,۵۵۰ | ۶۳,۷۱۴ |
| اوبه | ۹۳۲ | ۵۵,۶۳۵ | ۵۶,۵۶۷ |
| پشتون زرغون | ۶۵۳ | ۵۳,۲۲۶ | ۵۳,۸۷۹ |
| کهسان | ۱۱,۲۰۷ | ۳۴,۹۵۶ | ۴۶,۱۶۳ |
| کشک | ۹,۰۶۶ | ۲۱,۸۸۳ | ۳۰,۹۴۹ |
| غوريان | ۵,۸۶۰ | ۲۰,۴۲۰ | ۲۶,۲۸۰ |
| کرخ | ۳,۷۳۹ | ۱۶,۸۷۳ | ۲۰,۶۱۲ |
| شيندند | ۱,۹۰۴ | ۱۶,۲۶۴ | ۱۸,۱۶۸ |
| ادرسکن | ۵,۸۳۰ | ۱۱,۰۱۵ | ۱۶,۸۴۵ |
| چشت شريف | ۱,۰۷۹ | ۱۳,۷۹۲ | ۱۴,۸۷۱ |
| زنده جان | ۶۳۹ | ۴,۴۸۴ | ۵,۱۲۳ |
| گلران | ۱,۴۶۱ | ۳,۵۰۲ | ۴,۹۶۳ |
| کشک کهنه | ۲,۲۵۹ | ۱,۱۱۵ | ۳,۳۷۴ |
| عمومي مجموعه | ۹۱,۸۰۶ | ۵۴۴,۵۰۰ | ۶۳۶,۳۰۶ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه چې هلته يې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه يوې بلې سيمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړو شويو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۱۳۶،۲۸۴**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

**۹۳٪**
په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي


**۴۶٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۵۴٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي

داخلي بېځايه شوي کسان چې اصلي سيمې يې پرېښې | کلنۍ بهير | هرات




د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | هرات



# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا يې پرېښې وې بیرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۵۲,۴۷۳**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۸۲٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۲ څخه ۱**
پخوانی داخلي بېځایه شوی کس یوازې ۴ ولسوالیو ته راستون شوی: کشک، ادرسکن، کرخ او کهسان (۵۰٪)


**۶ څخه ۱**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۱۶٪ کسان کشک ولسوالۍ ته راستانه شوي

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | هرات




د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | هرات




د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوي سيمې څخه د هر دليل، عامل او يا موديو لپاره له هېواد څخه بهر تللي او يا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځايه شوي کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان يې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښي وي.


**۱۳۶،۵۱۱**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۶،۰۲۷**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۴٪)


**۱۲۵،۶۷۵**
ايران ته تللي دي (۹۲٪)


**۴،۵۸۰**
پاکستان ته تللي دي (۳٪)




# سکتوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکتورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۲۰۵,۵۳۲ |
| ۲ | ګذره | ۶۹,۲۶۶ |
| ۳ | انجیل | ۶۳,۷۱۴ |
| ۴ | اوبه | ۵۶,۵۶۷ |
| ۵ | پښتون زرغون | ۵۳,۸۷۹ |
| | عمومي مجموعه | ۴۴۸,۹۵۸ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | پښتون زرغون | ۸۲۰ |
| ۲ | چشت شریف | ۶۱۴ |
| ۳ | اوبه | ۳۷۶ |
| ۴ | زنده جان | ۲۸۰ |
| ۵ | ګلران | ۱۷۹ |
| | مجموعه کلی | ۲,۲۶۸ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | اوبه | ۱۷,۱۳۹ |
| ۲ | کشک | ۶,۷۸۳ |
| ۳ | انجیل | ۵,۳۳۲ |
| ۴ | ګذره | ۲,۶۵۵ |
| ۵ | چشت شریف | ۲,۲۶۳ |
| | مجموعه کلی | ۳۴,۱۷۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | پښتون زرغون | ۴۴,۳۲۱ |
| ۲ | اوبه | ۳۰,۳۸۷ |
| ۳ | کشک | ۲۰,۲۶۸ |
| ۴ | انجیل | ۱۸,۸۱۲ |
| ۵ | ګذره | ۱۶,۴۵۰ |
| | مجموعه کلی | ۱۳۰,۲۳۸ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | انجیل | ۹,۰۹۴ |
| ۲ | پښتون زرغون | ۸,۸۸۹ |
| ۳ | اوبه | ۸,۱۰۲ |
| ۴ | کشک | ۸,۰۷۵ |
| ۵ | کهسان | ۴,۴۳۰ |
| | مجموعه کلی | ۳۸,۵۹۰ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | پښتون زرغون | ۴۶,۶۵۱ |
| ۲ | ګذره | ۳۲,۶۲۲ |
| ۳ | اوبه | ۲۶,۴۱۲ |
| ۴ | کشک | ۱۵,۴۰۱ |
| ۵ | انجیل | ۱۱,۷۵۶ |
| | مجموعه کلی | ۱۳۲,۸۴۲ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | هرات




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### له بلواګرو څخه په تېښته کې

۴۲ کلنه بینظیر تر ۲۰۱۳ کاله پورې له خپلې کورنۍ سره په دایکندي ولایت کې اوسېده. د هغې خاوند بزګر وه او د کورنۍ د ملاتړ لپاره یې کافي پیسې پیدا کولای شوې. هغه پنځه ماشومان درلودل چې دوه انجونې او درې هلکان ول. د هغې ۳ ماشومان په ښوونځی کې شامل دي.

په ۲۰۱۳ کال کې د هغې راحته او آرامه ژوند له منځه ولاړ. بلوګرو د هغوی په کلي برید وکړ او هغه له خپلې کورنۍ سره دې ته اړ شوه چې هرات ولایت ته وتښتي. د هرات په لاره کې په دشت چو زر سیمه کې هغوی د امریکایانو له کاروان سره مخامخ شول. دې امریکایانو دې ډلې داسې ګمان وکړ چې دوی بلواګر دي او ډزې یې پرې وکړې.

په دې پېښه کې د بینظیر خاوند، یو زوی یوه لور له دې نړۍ سترګې پټې کړې. د هغې یو زوی په شدیده توګه ټپي شو او که څه هم روغتیایي پاملرنه یې ترلاسه کړه خپله یوه پښه یې له لاسه ورکړه. کله چې امریکایان متوجه شول چې د ملکي وګړو په موټر یې ډزې کړي نو هغوی بینظیر ته پیسې وړاندیز کړې. که څه هم او هغه ټولې پیسې خلاصې شوي او ډېره برخه یې بینظیر د خپل د زوی درملنې لپاره کارولې دي.

اوسمهال بینظیر د هرات ولایت په ګذره ولسوالۍ کې په یو کرایي کور کې له خپل دریو ماشومانو سره چې په یادې پیښې کې ژوندي پاتې ول یو ځای ژوند کوي. د دې کورنۍ په ګډون ګذره ولسوالۍ کې ۵۶،۴۸۹ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان شتون لري. هغه د خلکو په کورونو کې کار کوي او د هغوی کالي مینځي ترڅو وکولای شي له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. د کلي خلک هم هغوی سره مالي مرسته کوي. بینظیر وایي چې هغه د خپلو ماشومانو د راتلونکي په اړه اندېښمنه ده ځکه چې هغوی خواړو، کلیو او زدکړې ته اړتیا لري چې دا ټول په پیسو کېږي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.


بینظیر خپل خاوند او دوه ماشومان د امریکایانو تصادفي برید له امله له لاسه ورکړل. اوس، هغه د خپلې کورنۍ یوازینۍ عاید لرونکې غړې ده. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترځ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada · MOFAT · Norwegian Ministry of Foreign Affairs · Italian Agency for Development Cooperation · Co-funded by the European Union · په همغږي سره